در پخش شهادت ... (calligraphic motto)

چهارصفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۲٦۰) سال نزدهم شماره (۱٦۸) یکشنبه (۲۰) عقرب ۱۳۷۵ هـ .ش (۲۹) جمادی الثانی ۱٤۱۷هـ ، ق (۱۰) نومبر ۱۹۹٦م

برادر حکمتیار حین ملاقات بامعین وزارت خارجه ایران

خودمحوری وعدم توجه به حقوق دیگران آفت شکل گیری حکومت است

مابا همه توان خودبخاطر تحقق حکومت اسلامی مبارزه می نمائیم

کندز – ۱۸ عقرب :
علاؤالدین « بروجردی » معین وزارت خارجه ایران دیروز بابرادرحکمتیار امیرحزب اسلامی افغانستان پیرامون اوضاع جاري درافغانستان دیداروگفتگو کرد .

طبق گزارش منابع خبري ایران دراین دیدار، برادرحکمتیار ضمن قدرداني ازتلاش هـاي صلح جویانه جمهوري اسلامي ایران فرمـود هیچ حاکمیت درافغانستان بدون حضور همه نیروهاي موجود درصحنه قابل شکل گیري نیست وملت مسلمان افغانستان به چیزي کمتر ازحکومت اسلامي در افغانستان راضي نخواهند شد وماباهمه توان درجهت تحقق این هدف تلاش خواهیم کرد .

امیرحزب اسلامي درادامه سخنانش گفت : خود محوري وعدم توجه به حقوق

بقیه درستون «۳» صفحه «٤»

الهي لارښووني

آیاتاسي همغه خلك نه یې ګڼي لـه دېنه مخکي مویه قسمونو خوړلو ویل چي موږ هیڅکله زوال نلرو ؟ پداسي حال کي چي تاسي دهغو قومونو په کلیو کي اوسیدلي چي هغو په خپله پـه ځان ظلم کړي و او کتلي موچي موږ له هغوسره څه چلندوکړ او دهغو دمثالونوپه راوړلو موږ تاسي پوهولي هم وي. هغوخپلي ټولي دسیسي په کاروا چولي خو دهغو دهري دسیسي ختني کول له الله سره و که څه هم چي دهغوچلونه داسي قوي وو چي غرونه به پري له ځایه بي ځایه شي .
(ابراهیم – ٤٤ – ٤٦)

دتاجکو مبارزومشرانو دطالبانو سره ندي کتلي

پاتې «٤» مخ «۱» ستون

دپاکستان سیاسی تحول په هیڅ توګه دافغانستان پرحالاتو بی تاثیرنشی پاتی کیدای

که دپاکستان د دریځ بدلون رسمي اعلان شي اوکنه خو عملي اغیزي یې حتمي دي

جنرال بابر په ډیرو برخوکی درسمی سیاست له پولونه پسه اروله

اسلام آباد – دلړم ۱۹ مه :
دپاکستان پـوه لوړرتبه متقاعد مامور له شهادت سـره دیوي تلیفوني مرکي په ترځ کي وویل چي د دپاکستان وروستي سیاسي تحول پـه هیڅ توګه دافغانستان په حالاتو باندي بي تاثیره نشي پاتي کېداي .
نوي اداره به خامخا دځینو هغومتقي نتیجوپه باره کي سـرچ کـوي چي دافغانستان د حـالاتو پـه برخه کي دموضعګیرۍ له امله پاکستان ورسره مخامخ شوي دي .
نوموړي مامورزیاته کړه چي « که حتي دپاکستان ددریځ دبدلون کومه رسمي اوعلني اشاره ووهم نکړله شي خودافغانستان پـه حالاتو باندي ددي بدلون اغیزي حتمي دي ».
ده وویل چي « دکورنیو چارو پخواني وزیرمتقاعد جنرال نصیرالله «بابر» دافغانستان پـه باره کي پـه ډیروموارد و

پاتې «٤» مخ «۳» ستون

مخالفان نمیخواهند جنگ به کوچه وبازار شهر کابل کشانده شود

لندن – ۱۹ عقرب :
نیروهاي مخالف طالبان نمي خواهند جنگ ودرګیري به کوچه وبازارشهرکابل گسترش یابدزیرادرگیري درکوچه وبازارشهر، اهالي کابل رامتحمل تلفات و خسارات جاني ومالي مي سازد .
آژانس خبري فرانس پرس به نقل از هارون میر نماینده احمد شـاه مسعود گزارش مي دهد که نیروهاي وابسته به دولت استاد رباني مصـمم اند . تپه ها

بقیه درستون «۳» صفحه «٤»

طالبان حاضراند نیروهای شان را از کابل بکشند ولی حاضر نیستند کنترول سیاسی آنرا ازدست بدهند

اسلام آباد :
اگرموافقتنامه آتش بس میان جناحهاي درګیربه امضا برسد طالبـان حاضراند سربازان واسلحه ثقیل خود را ازکابل عقب بکشند .
براساس گزارش آژانس خبري فرانسه ناربرت هول نماینده خاص سازمان ملل درامور افغانستان روزپنجشنبه دراسلام آباد حین

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

دکابل په شمال کی خونړی جګړه روانه ده

دولتی الوتکو دخواجه رواش هوایی ډګربمبارکړ

کابل – دلړم ۱۹ مه :
دکابل په شمال کي دطالبانو اودولتي ځواکونو ترمنځ خونړي جګړي رواني دي .
له کابل څخه په خبروشیو رپوټونو کي ویل کیږي چي پرون سهار وختي دولتي جېټ الوتکو دخواجه رواش هوائي ډګرلودغه په شاوخـوا سیمو بمباري وکړي .
په رپوټ کي ویل شوي چي بمباريو کي چي څلورجېټ الوتکو برخه اخستي وه په هوائي ډګـر پر سیره تي دډګریه شاوخوا سیمه کـي د طالبانو ځونظامي مرکزونه بمباري کړل .
له بلي خوا دطالبانو دباندنیو چارو دوزارت یو مسئول مقام بي بي سي ته وویل چي پـه بمباریو کي دطالبانو ځواکونوته هیڅ تاوان نـدي رسیدلي اوبمونه دهوائي ډګرپه شاوخوا سیمه کي په

پاتې «٤» مخ «۲» ستون

دملاغوث اوجنرال دوستم داستاځو خبری ناکامی شوی

جنبش دلوړ رتبه استاحی په نه راتیرلوسره،له طالبانو سره دتفاهم په باره کی خپل سوروالی وسود

دوستم نه غواړی چی خپل ځینی بهرنی دوستان شکمن کړی

اسلام آباد – دلړم ۱۹ مه :
یوي باوري منبع پرون شهادت ته وویل چـي طالبانو داداري دخـارجه چارومسئول دملامحمدغوث او جـنرال دوستم داستاځي جنرال پاینده ترمنځ خبري ناکامي شوي اوهیڅ نتیجه وربانـدي مرتبه نشوه . منبع وویل چي دنوموړو ترمنځ خودوروه پرله پسي ملاکـرات وشول خو په دي وجه چي دجنرال دوستم استاځي په خپله هغه موضع چي باید طالبان له کابل نه ووځي ټینګارکاوه ، بي ګټي ثابتي شوي .
منبع وویل چي جنرال دوستم هغه وخت له طالبانوسره دتفاهم اومفاکراتو په باره کي خپل سوروالي وښود چي اسلام آبـاد تـه تي دیـوه لوړرتبه استاځي دراتیزلو په ځاي، پـه اسلام آباد کي دخپلي نمایندګي مرستیال جنرال پاینده ته لارښوونه وکړه چي له ملامحمد غوث سره

پاتې «٤» مخ «٥» ستون

سازمان حقوق بشر خواستار تخفیف محدودیت هابرزنان افغان شد

نیویارک – ۱۹ عقرب :
مفتشان حقوق بشر سازمان ملل متحد درامور افغانستان نسبت به برخورد طالبان با زنان افغان ابرازنگراني نموده اند .
« رادیکاورا سوامي » یکتن ازوکلاي حقوق بشرسازمان ملل متحد طي صدور اعلامیه اي ازملامحمد عمر رهبر طالبان مطالبه نموده تامحدودیت ها وموانع ایجاد شده درمقابل زنان افغان رامـلغي قراردهد .
دراین اعلامیه که درمرکز اروپایي سازمان ملل متحد منتشر شده تذکر به عمل آمده که زنان افغان توسط افراد طالبان مـورد لت وکوب، آزار واذیت قرارگرفته و ازحق کاردرادارات وتحصیل

بقیه درستون «۲» صفحه «٤»

تهران واسلام آباد درمسئله افغانستان اختلاف نظرداشتند

این اختلاف هنوز رفع نشنده است

پاکستان روز پنجشنبه اعتراف نمود که ایـن کشور روي مسئله افغانستان بخصوص درمورد تشکیل حکومت آینده این کشور باایران اختلافـاتي داشته است .
به گزارش روزنامه فرانتیرپست یك سخنگوي وزارت خـارجه پاکستان دردیدارهفتگي باخبرنگاران روزپنجشنبه دراسلام آباد گفت : « مـا درمورد مسئله افغانستان باایران اختلافات داریم ».
وي افزود : « بهرحال ما تلاش میکنیم تااین اختلافات راحل و فصل کنیم »
دراین مورد ملاقات ها ومذاکرات میان دوکشور جریان دارد . وي ازسفراخیر نماینده دولت پاکستان به ایران یاد آوري نموده گفت دردیدار هیئت مذکور با سـران ایراني

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

پاکستان طالبان رابرای شرکت درمسابقات بازی های ملی این کشور دعوت میکند

کراچي :
براي اولین بار دریازي هـاي ملي پاکستان چند کشور جنوب آسیا به شمول طالبان دعوت شده اند . در٢٦ مین بازي هاي ملي پاکستان که قرار است درزماني بین ماه هاي مارچ وجنوري سال آینده باهزینه ۳۰ تا۳٥ ملیون روپیــه برگزارمیگردند ، شرکت نمایند .

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

افغانها نگذارند دست های بیگانه درکشور شان دراز شود

امام جمعه تهران

تهران – ۱۹ عقرب :
آیت الله امامي کاشاني امام جمعه موقت تهران طي خطبه نمازجمعه ، موقف ایران راجع به مسایل ملي وبین المللي کشورش راتوضیح داده ، ازوضعیت مردم افغانستان صلح مي خواهند ، ادامه جنگ، براي افغانها صلح وآرامش را درقبال نداشته بلکه به ضرر آنها تمام مي شود .

بقیه درستون «٥» صفحه «٤»

طالبان تارکین نماز را به زور به مساجد می آرند

کابل :
افراد مسلح طالبان که پایپ هاي پلاستیکي بدست داشتند شهریان کابل را جهت اداي نماز جمعه بـه مساجد مي آوردند .
درمقابل افرادیکه ازاداي نماز اباميورزیدند ازشیوه هاي قهرآمیز نیز استفاده میکردند .
روزجمعه گذشته حدود بیست نفر

بقیه درستون «۱» صفحه «٤»

هیئت جمعیت علمای پاکستان ازکابل به پشاور برگشت

پشاور – ۱۸ عقرب :
طبق گزارش روزنامه نواي وقت این هیئت اعزامي « جمعیت العلماي اسلام برهبري مولاناسمیع الحق » که اخیراً وارد کابل شده بود پس ازچهار روز اقامت درکابل ومذاکره باسران طالبان به پشاور برگشته است .
هیئت تحت ریاست مولانا محمدیوسف باسران طالبان ازجمله مولانامحمدحسن رحماني دیدار وگفتگو نموده وضمناً پیام کتبي سمیع الحق رانیز به وي تسلیم نموده است .

بقیه درستون «۱» صفحه «٤»

سیاست هاي ایران در قبال حل بحران افغانستان اظهارنمود که مذاکره یگانه راه

بقیه درستون «۳» صفحه «٤»

علاوالدین بروجردی باجنرال دوستم دیدار کرد

شبرغان – ۱۸ عقرب :
علاؤالدین بروجردي معاون آسیا واقیانوسیه وزارت خارجه ایران درآغاز دور جدید تلاش هاي ایران درجهت برقراري صلح درافغانستان درشهرشبرغان باجنرال دوستم دیـدار نمـود وآخرین تحولات افغانستان را باوي مورد بحث وتبادل نظر قرارداد .
طبق گزارش منابع خبري ایران بروجردي دراین دیـدار ضمن تشریح

دپاکستان نوی حکومت اقتصادی بدلونونه راولی

اسلام آباد – دلړم ۱۹ مه :
دپاکستان نـوي مؤقت حکومت تصمیم نیولي چي په اقتصادي چارو کي چټك اوپرمختللي بدلونونه راولي .
په اسلام آباد کـي دپاکستان دنوي حکومت دمالي چارو وزیر جاوید « برکي

پاتې «٤» مخ «۱» ستون

درده گذشته :

بیش از دوملیون طفل قربانی جنگ شده است

سازمان ملل :
درگزارش سازمان ملل متحد کـه روز جمعه منتشرشده گفته شده کـه بیش از دوملیون طفل درجـریان دهه گذشته درنتیجه درگیري هـاي مسلحانه ، انفجارماین هاي زمیني، گلوله وبم کشته شده وسه برابر همین تعـداد مجروح یامعیوب شده اند .
به گزارش آژانس خبري فرانسه این گزارش را کـه گراکامایکل وزیرتعلیم وتربیه درکابینه سابق موزامبیق وبیوه (سابق) رئیس جمهور سامورامایکل تهیه نموده مي گـوید اطفال از هردوطرف تفنگ آسیب مي بینند یا درحال طفولیت وارد خدمت عسکري مي شوند ویاهدف خشونت قرارمیگیرند .
براساس اینگزارش : ملیون هاطفل قبل ازسن جواني درحالیکه هنوز به سن مناسب

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

ازماه سبتمبر به بعد :

شفاخانه های کابل صدها مجروح رابستر نموده اند

به همین تعداد درشفاخانه های خارج شهر زیرتداوی قرار گرفته اند

ژنو :
کمیته" بین المللي صلیب سرخ اعلان داشته که درجریان چـند هفته اخیر صدهامجروح جـنگ هـاي داخلي افغانستان درشفاخانه هاي صلیب سرخ درکابل بستري شده اند .
یك مقام کمیته بین المللي صلیب سرخ روز پنجشنبه درژنو گفت که درجریان ماه اکتوبر سه صدمجروح دریك شفاخانه نظامي طالبان که ازطرف صلیب سرخ اکمال مي شود، بستري شده اند .
سازمان هــاي امداد گرمیگویند درطول همین مدت ۳٥۰ مجروح دیگر دردوشفاخانه دیگرکابل که سرویس هاي جراحي آنهارا صلیب سرخ اکمال مینماید، زیرتداوي قرارگرفته اند .
همچنان پنج مرکز صحي دیگري که توسط صلیب سرخ اداره وتمویل مي شوند

بقیه درستون «۲» صفحه «٤»

معین وزارت خارجه افغانستان ازتلاش های ایران درارتباط به انعقاد کنفرانس منطقوی تهران قدردانی کرد

پشاور – ۱۸ عقرب :
عبدالرحیم « غفورزي » معین وزارت خارجه افغانستان طي پیام کتبي عنوان داکترولایتي وزیر امـور خارجه ایران ازتلاش هاي این کشور درارتباط به انعقاد کنفرانس منطقوي تهران پیرامون اوضاع افغانستان اظهار قدرداني کرد .
طبق گـزارش منابع خبري ایران غفورزي دراین پیام . کنفرانس تهران را یك اقدام صلح جویانه براي منطقه خوانده واظهارامیدواري کرده که گام هاي مثبتي درجهت برگشت صلح پایدار درافغانستان برداشته شود. غفورزي همچنان براتخاذ

بقیه درستون «۱» صفحه «٤»

دمرتضی بوټوپلویانو پولیس په رسمی توګه دده په وژلو تورن کړی

اسلام آباد – دلړم ۱۹ مه :
په اسلام آباد کي دمرتضي بوټو پلویانو په رسمي توګه پولیس دمرتضي په وژلو تورن کړل .
دپاکستاني پولیسو یـوه مقام ویلي چي وژل شوي مرتضي « بوټو » دګټبیوه لوړرتبه غړي دپولیسو مشران پدي تورن کړي چي دده په وژلو کـي تي مستقیم

پاتې «٤» مخ «۲» ستون

یکتن از افراد طالبان پیر مرد بایسکل سوار را در پیشروی مسجد جامع پل خشتی به اداي نماز جمعه دعوت می کند .
تصویر از فرانس پرس

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس : انجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ

تحت نظر هیئت تحریر

تیلفون : ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پـ ور

دافغان د مسئلي په باب بهرني کانفرانسونه

دمیزان پـه شپږمه نیټه چي کابل دطالبانو لاس تـه ورغي دافغانستان مسئلي په بومخبزړول بل شکل غوره کړي ، داخلي اوبهرنیو لوریو او جهتونو تغییر موندلي اوحتي په افغانستان اوسیمه کي بي دنوي کشمکش درامنځته کیدو لاره هواره کړي ده . دهمدغه نویو تحولاتو داغیزله امله لومړي په الماتا کي د روسیي فیدراسیون اومرکزي آسیا ځیني هیوادوغونډه جوړه شوه اوورپسي لڼي ورځي وروسته په تهران کي کانفرانس راوبلل شو، دتهران په کانفرانس کي ځیني دخپلو لوریوگډون ونه کړ اوځیني نور بیا دیوه مطرح قوت په حیث په کي رامنځته شول، لکه ازبکستان ، ترکیه چي دجنرال دوستم دسیاسي اومالي مرستو وعده یي هم وکړه ، او ددي ترڅنگ جنرال دوستم دطالبانو سره داوربند کولو دضامن په شکل کي له خپل لوري دازبکستان نوم هم واخیست .

اوس دادي درواني عیسوي میاشتي پـه اتلسمه د افغان مسئلي په باب په نیویارک کي کانفرانس جوړیدونکي دي، په دي کانفرانس کي هم بنايي ځیني دخپل لوري له دي امله گډون ونه کړي، چي دهغوي په رابلل شوي کانفرانس کـي هم ځینو لوریو له دي امله گـډون نـه وکړي، چـي بي نتیجي پاي ته ورسیږي .

ددغه ډول کانفرانسونوهدف که هرڅه وي، خوافغانانوته تري ځکه دخیرهیله کول بي ځایه دي چي، دغه ډول غونډي دافغانستان پـه مسئله کي دبهرنیو مخالفو لوریو داغیز راکمولو په خاطر جوړیږي ، نه داچي دمسئلي کوم دوامدار اوثابت حـل تري راوه اوزي.

موږ دامنوچي له پیله دافغانستان په مسئله کي بهرني فکتور خورا قوي اواغیزمن دي خوکه ملگري ملتونه ، اسلامي کانفرانس اودسیمي هیوادونه غواړي چي دافغانستان جگړي پاي ته ورسیږي ، سوله رامنځته شي اودافغانانو دخوښي نظام جوړیدو له پاره لاره هواره شي، نولازمه ده چي پـه دغـه جنگ ځپلي هیواد کي دتور اوسپین له ملاتړنه لاس واخلي، دیومصلح اوناپییلي په توگه دافغانانو دخپلمنځي تفاهم له پاره هلي ځلي وکړي اوددي له پاره زمینه برابره کړي چي دافغانستان دبیلابیلو تنظیمونو، قومونو ، اومذهبونو مشران،علماء ، سیاست پوهان اومشورین په یوه تغرسره راټول کړي. او بالاخره دافغانستان دلانجي له پاره دافغاني تفاهم په نتیجه کي دحل لاره پیدا کړي .

دوي باید په دي وپوهیږي چي لکه څنگه چي جگړه دافغانانو له پاره زیانمنه ده ،همدغسي په گاانده کي دغه اور ددوي خپل هیواد تـه هم خوریدي شي، ځکه دجگړي اوسني شکل اوداوسنیو لوریوله خوا ورته دسونگ مواد برابرول همدامعني لري ، چي ددغه جنگ لمبي دي دهغوي ترلمنو هم ورسیږي، چي دافغانستان دجگړي سکروټي ورته لعلونه ښکاري .

زموږ هیله داده هغه دوستان چي دجهاد اوهجرت په دوران کي یي راسره نه هیریدونکي مرستي کړي، باید مظلومو افغانانو اوخپلوآینده گـټـو دمحفوظ پاتي کیدو پـه خاطر نوردجگړي داور په وژلو کي هم مرسته وکړي، دجگړي اوسیمه ایزرقابت پرځاي په مشترك ډول دبین الافغاني تفاهم دپروسي په رامنځته کولو کي مرسته وکړي، چي په افغانستان کي سوله اواستقرار رامنځته شي ، ځکه له یوي خواکه جگړه دیوه لوري په گټه نه ده اوله بلي خوا هیڅوك هم نه شي کولاي چي په داخلي اوبهرني سویه دنورو له گډون پرته سوله اوثبات رامنځته کړاي شي . اودغه اړتیا پرخپل حـال پاتي پاتـي ده چي لانجه دي دخپلمنځي تفاهم له لاري حل کړاي شي.

که دافغانانو داستر گور سوځیږي دگاونډیو نجات هم ممکن ندی

دسیدولید لیکنه

دافغانستان روان ناورین لايسي زیاتیږي او ورځ په ورځ دغه له ستونزو ډك بحراني حالت لايسي پیچلي کیږي . که څه هم واړه غټ افغانان په همدي تکي پوهیږو او خبري پري کوو خوله بده مرغه چي تراوسه یي دحل اواواري په باب نه فکروشو اونه هیڅ چاهم دخیر په دغي لاره کي گام پورته کړ .

کیداي شي ځیـنـي هیوادونه ، سیاسي ډلـي، ځانگړي شخصیتونه دادعوه وکړي چي مـوږ په دغه یاهغه وخت کي کوم وفـد اوهیئات لیږلي ؤ یامودسولي په نوم کوم گام پورته کړي ؤ ، په تاسف سره ویلي شوچي دغـه گامونه هم دخاصو اهدافواو مرامونو له پاره پــورتـه شـویدي نـه داچي دافغانستان داناوره حالـت دي پاي ته ورسول شي اويادي هـم لږ ترلږه دتفاهم اومذاکري شرایط برابرکړاي شي .

دغه گامونه ځکه بي نتیجي او بي ارځښته پاتي شول چي دشخصي اوسیاسي اهدافو په درلودلو پیل شوي وو . دادچیب شریکي لـه پـاره و ، نه دغم شریکي له پاره ، او یاهم دخپل ځان ، خپلي ډلي او خپل هیواد ددریځ دلوړتیا او یا هـم دتړیرالو د سترگو دپټولو اوغوږونودکڼولو پـه خاطرو اودي.

پـه دي ورځـــوکي یـو ځل بیا دافغانستان د ستونزي دحل اواواري په خاطـر د افـغـانستان پــه گاونډیو هیوادونوکي تاري سوري پیل شوي او دخپلواهدافو پـه تقوق اولوړتیا سره غواړي چي دافغانستان پرمسأله باندي سیاسي ، نظـامي تجارتونه ، مسابقي اوسيالي وکړي. هـمدغه سوداگري، مسابقي اوسيالي وي چي دافغانستان دمسائلي غوټه بي هومره سخته کړه چي

اوس په غاښونوهم نشي خلاصیدي، که زموږ گاونډیان اسلامي ، انساني او دسه گاونډیتوب روابط په نظرکي ونیسي یالږ ترلږه په دي فکروکړي چي دافغانستان مسأله دي حل شي دا به پخپل وارسترکاروي .

ډیرداسي شواهد شته چي زمـــوږ گاونډي هیوادونه اصلاً نـه غواړي چي دافغانستان روانه ستونزه دي حل شي، که دامـــسأله حل شي نو بیا خوددوي ، گاوشیري ، مري . بیا بـه دوي دزیږي غوا حاصل اوکوچ له کومه کړي، ان تردي ویلي شو چي کـه دافغانستان مسأله حل شي نودوي دغه اسعارچي دافغانانو په نامه یي افــراد ، موسـسي اوهیوادونه دافغان مهاجرینو د خرڅ له پاره رالیږي لـه کومه کړي. دا اسعار داسي اسعاردي چي زمــوږ گاونډیو ته پخپل کــوركي دخپلو تولیداتو په خرڅلاو او وړاندي کولو ســره ورکول کیږي .

که چیري زموږگاونډیان ددغو اسعارو دترلاسه کولو له پاره بهرته په سوداگري تللي نوهرومرو به یي گټه تردي کمه وه. یعني داچي دسفرمصارف اولگښتونه به یي کیدل له گټي ځخه به یي کمیدل ، سیاسي نوم اونښان به یي هم هیڅ نه درلود. خو دافغانستان

درواني ستونزي پـه ژوندي اوفعال ساتلو کي دغـــه گـټي شته چي دافغانستان گاونډیان یـي دخپل طبعیت دبرابرولو له پاره راولاړوي، گرموي یي اوکله ئي هـم پـسي ډیره توده اوبړوکړي .

له بده مرغه چي زموږ دغو گاونډي هیوادونو زموږ پرسر هسي لوبي پیل کړي چي دافغانستان ځوږره کلن تاریخ دخپل دوه ورځني تاریخ ځخه قربانوي هغوي غواړي چي خپلي تجربي پرافغانانو پخي کـــړي .هرگاونډي دافغانستان پـــه مسأله کي ځانگړي اهداف لري .

ډیري داسي اوازي هم خوریږي چي زموږ گڼ شمیر گاونډیان دخپل ذوق سره برابر دجگړي اړخونوته پوځي مهمات ، سیاسي مرستي، پیسي او ځیني پوځي وگړي هم ورکوي . پدي توگه غـواړي چـــي دا رنځیدلي افغانستان نور هــم وکړوي او په دي مسلمان اومجاهد ملت باندي یوگوړاگي رژیم وروتپي ترڅودغه راز بي خرنده اوبي غیرته نظام دخپل ځـان پرځاي ددوي په چوپړکي خدمت وکړي .

په همدي تیرڅه ناڅه یوکال کي زموږ یو شــمیر گاونډیو واکمنانو وغوښتل چي دافغانستان مسلمان ملت دجهاد بریاوي اوقرباني دخپلو تجارتي

گټو قربان کړي. ددغوگاونډیو یوواکمن په غټو ټکوکي ویل چي : مـــوږ ته دافغانستان سیاسي ثبات ارځښت نلري موږ غواړو چي دمنځـــني آسیا له هیوادونوسره خپـلي تجارتي اړیکي ټینگي کړو .

موږ د ـــه راز گاونډیوته وایوچي پطرکبیر هم غوښتل چي دافغانستان له لاري بحرهند ته ځانونه ورسوي . کله چي بیا روسان پــــه همدي هیله دافغانستان برخـــاوره راوختل نوبیا دادي لیري نه څلورکاله وړاندي تري وپوښتي چي حـالات یي څه شول . هغوي نه یواځي داارمان خاوروته یوړ بلکي دروس تــوم او نښان هم له خاوروسره برابرشو .

اوس هم اوسنیو گاونډیانوته وایو چي دااورچي په موږ کي بلوي په همدي اورکي به دوي هم ستي شي، دمنځني ختیځ په سوداگري کي به خپل سیاسي اونظامي موقعیت هم له لاسه ورکړي . که افغانستان نه وي، په افغانستان کي امن نه وي، په افغانســتان کي مرکزي قوي حکومت نه وي څوك به دده کاروان ته دتگ راتگ امن وامان برابرکړي .

داستره تاریخي خبره ده چي افغانستان دآسیا زړه دي. کله چي دبدن زړه ناروغه وي، هلته به کي

ناآرامي وي نوبدن به څنگه روغ پاتي شي . که زړه ودریږي دوینې جریان بندیږي چي وینه بنده شوه نوزړه دریدلي وي اوچي زړه ودرید نوبدن مرشي هرڅه بي ختم شي .

موږافغان اومجاهدولس له خپلوگاونډیوهیوادونو، ملگروملتونوڅخه چي غواړي نن سبا دافغانستان په باب په امریکا کي یوکنفرانس جوړکړي هغوي هم په کي دخپلي خوښي نیلي «څغلوي» غواړو زموږ په کورنیو چاروکي دي لاسوهنه نه کوي، که موږ ته خیرنشي رارسولي نودخپل شر مخه دي ونیسي دمغرضو هیوادونو اوډلو ټیلو مخه دي بنده کړي اوکه داهم نشي کولي نو حـداقل قرا دي کیني . مـوږ افغانان دي پریږدي چي موږ پخپله دخپلي ستونزي داواري لار ومومو .

موږبه دي باوریو چي کـــه پردي لاسونه قطع شي، د افغانانو مسأله پخپله افغانانوته وسپارل شي افغانان به ډیرژروکړاي شي خپله لاره ومومي . افغان دافغان په ژبه ښه پوهیږي ، افغانان یوبل، خپل اوپردي ښه پیژني که افغانان پخپله ســـره کېني، دخودغرضه اوخودخواهي مسایل لیري شي . دپردیو له خوابیل په شاوته ټپول شي امیددي چي مؤمن، مجاهد اومسلمان افغانان به ډیرژر خپله لاره پیداکړي .

یوه بله دپام ورخیره داهم ده چي که دگاونډي پـــه کـــور کي لگیدلي اورمرنشي اوله هغه سره داویو پرځاي پراوریاندي پطرول وشیندل شي نو د لمبوتاویه هرومرو دگاونډي کـــور هم وسوځوي په دي هم فکریه کاردي چي که دافغانانو داستروکورسوځیږي اولبه کیږي نودگاونډیونجات هم ممکن نه دي .

شورای امنیت وبحران افغانستان

اشاره :

گزارشي ازسخنراني هاونقطه نظرات برخـي از کشورهــا از جـملـه نمایندگان افغانستان ، پاکستان، روسیه ، فرانسه ، انگلیس، امریکا، قزاقستان ، تاجکستان و ... درجلسه بحث عمومي شوراي امنیت که چندي قبل به منظور بررسي اوضاع افغانستان تشکیل شد .

« آلن دوژامه » بااعلام آمادگي دولت فرانسه براي کمك بـه بر قراري صلح در افغانستان ، تـداوم نا آرامیها دراین کشور را موجب افزایش تروریزم ارزیابي کرد و نقش سازمان ملل رابراي حل این مناقشه وجلوگیري از نقـض حقوق بشر درافغانستان مـورد تاکید قرارداد .

نماینده چین به عنوان دیگر عضو دائم شوراي امنیت تاکید کــرد کـه تغییرهاي سیاسي و نظامي اخیر در افغانستان باعـث گسترش نگراني درجامعه بین المللي درمـورد تهدید اوضاع منطقه دربین کشورهاي همسایه این کشوربه ویژه فـدراسیون روسـیه شده است .

« چین هواسون » افزود: چین نیز به عنوان یك کشورهمسایه افغانستان ازاین اوضاع نگران است وامیدوار است که طرفهاي مناقشه اختلاف سیاسي، ملغبي و قومي خودرا کنارگذارده وبه یك راه حل مسالمت آمیز دست یابند .

وي اضافه کرد : چین معتقد است که دستیابي بـه هدف برقراري یـك سازش ملي بدون تعهد صادقانه طرفین، امکان پذیر نیست وما اطمینان داریم که ملت افغانستان قادرند مشکلات خود راحل کنند .

« هواسون» دستیابي به یك تفاهم ملي راتنها راهي که به ملت افغانستان اجازه خواهد داد تـا خرابیهاي ناشي ازجنگ را باز ســازي وترمیم کنند، معرفي کرد .

نماینده امریکا درشوراي امنیت تاکید کرد کــه واشنگتن از هیچیك ازجناحها، گروهها و افـــراد خاص درافغانستان حمایت نمي کند امابه تماسها و گفتگو هاي خود باتمامي آنها ادامه خواهد داد .

« مادلین البرایت» درجلسه عصر چهارشنبه گذشته شوراي امنیت بااشاره به این موضوع که اوضاع سیاسي و نظامي در افغانستان در پي حوادث چند هفته اخیر به شدت تغییر یافته است آینده این کشورراناطمئن ارزیابي کرد واحتمال تسخیر دوباره کابل توسط دولـــت رباني را مطرح ساخت .

وي تاکید کرد کـه موضع امریکا درقبال ایـــن آشــوب تغییر نیافته وواشنگتن همچـــنان خـواستار توقف درگیریها و آغـاز مذاکرات باهدف دستیابي بـه یك راه حل مسالمت آمیز است.

وي باحمایت ازتلاشهاي « نوربرت هول » نماینده ویژه بطروس غالي درامورافغانستان خاطرنشان کـرد که این تلاشها با وجـود عدم همکاري جناحهاي افغان باید ادامه یابد .

نماینده امریکا ضمن ابراز نگراني ازدخالتهاي خارجي در امـــور داخلي افغانستان کلیه قدرتهاي منطقه وکلیه همسایگان افغانستان را به همکاري با سازمان ملل وترغیب جناحهاي افغان درجهت حرکت به سوي صلح فراخواند .

وي دراین جریان ازکشور خاصي نامي به میان نیاورد .

« البرایت » حمایت امریکارا از اعمال تحـریــم تسلیحـاتي علیه افغانستان اعلام کـــرد و سرازیر شدن سلاح بـه این کشور را عامـــل اصلي تشدید درگیریها خواند .

وي از جـامعـه بین المللي خواست تاپه تلاشهاي خـــود براي همکاري باجناحهاي افغان ادامــه دهـد تااین کشوروحدت خودرا بدست آورد وثبات، بهبود اقتصادي و حاکمیت قانون درآن برقرار شـود . وي چنـین شرایطي را عامل برقراري ثبات دردیگر بخشهاي منطقه وکاهش جریان قاچـــاق مـواد مخدر وسلاح ارزیابي کرد .

وي همچنین ازتمامي گروههاي افغان خواست تابه قوانین بین المللي حقوق بشر احترام بگذارند وبرحق برابرزنان ومردان براساس منشور سازمان ملل تاکـیـد کـــرد . وي بــا اشاره به محدودیتهاي اعمال شده بـــر سر کار وتحصیل زنان ودختران توسط گروه طالبان این اقدامها راغیرقابل توجیه ودفاع دانست .

البرایت ابرازامیدواري کـــرد که باوجود شرایـــط مشــکل کــنوني سازمانهاي بشردوست بین المللي بـــه فعالیتهاي خود وارائه کمکهاي انسان دوستانه به مردم افغانستان ادامه دهند.

« الفرد رلوپزکابرال » رئیـــس دوره اي شوراي امنیت ازکشور هندوراس، دراین جلسه گفــت : صلح و ثبات درافغانستان به دلیل توسل طالبان به راه حل نظامي تضعیف شده است .

وي افزود : بـــه عقیده ماالین راه حل تاکنون توانائیهاي اقتـصادي و مالي ملت افغانستان رابـه تحلیل برده است .

رئیس دوره اي شـوراي امنیت بااشاره به این موضوع که سرازیر شدن سلاح وتجهیزات نظامي از کشورهاي دیگر به افغانستان بــه آتش افروزیها دراین کشوردامن زده است خـواستار متوقف ساختن ارسـال سـلاح به افغانستان شد .

وي ازکلیه جناحهاي افغان خواست تادرگیریها و جنـــگ را کنار گذارده وباانجام مذاکره مشکلات خودرا حل کرده وبه یك تفاهم بین المللي دست یابند.

نماینده دائم هندوستان درسازمان ملل درادامه جلسه شوراي امنیت بااشاره به پیوند هاي تاریخي دهلي نو وکابل حمایت این کشوررا از وحدت وتمامیت ارضي این کشوراعلام کرد .

«پراکاش شاه» تحولات جاري درافغانستان را بـسیارنگران کننده خواند وباخاطرنشان ساختن این نکته که دولت برهـــان الدین رباني براي دستیابي به صلح خواستارانجام مذاکره است، لجاجت برخي ازگروهــا را مانع تحقق این امرمعرفي کرد.

وي گرایش عقیدتي وفکري گـروه طالبان را مایه نگراني دانست و اقدام طالبان دراعدام نجیب الله و بـرادرش دراولین روز تصرف کابل و نقض حقوق بشر از سوي این گروه راتقبیح کرد .

« پراکاش شاه » هرگـونه اعمال خشونت درافغانستان رامحکوم کـرده وحمایت دولت هند را از تلاشهاي صلح جویانه سازمان ملل و نماینده ویــژه بطروس غالي بـراي برقراري صلح درافغانستان اعلام داشت .

دراین نشست نماینده ناظر سازمان کنفرانس اسلامي در سازمان ملل نیز بااشاره بـه عدم موفقیت تلاشهاي این ارگان اسلامي براي ترغیب جناحهاي افغان به انجام مذاکره وبرقراري صلح گفت : جـنـگ کنوني در افغانستان ماهیت خاص خــود را دارد ومغایر باجنگهاي استقلال طلبـانه درمقابل تجاوز هاي خارجي است .

« انسي » افزود : افغانستان از مرحله جنگ استقلال طلبانه وارد جنگ داخلي شـده وسرازیرشدن سلاح ، دخالتهاي خارجي ونیز صدور تروریزم برابعاد خطرناك جنگ افغانستان افزوده است .

وي باتوجه بـه تحولات اخیر برگزاري یك اجلاس غیررسمي از سوي دولتهایي که مي توانند به روند صلح افغانستان کمك کنند را درکنارتلاشهاي به عمل آمده ازسوي سازمان ملل وسازمان کنفرانس اسلامي براي کمك به روند صلح افغانستان مفید ارزیابي کرد .

وي بـــه نمایندگي از ســوي « حامدالغابــد » دبیرکل سازمان کنفرانس اسلامي خواستار توقف فوري درگیریها، دخالتهاي خارجي، ارسال سلاح به افغانستان و انجام مذاکره براي برقراري صلح شد .

نماینده دائم ایرلند درسازمان ملل که کشور متبوعش ریاست اداري اتحادیه اروپا را بـــه عهده دارد خاطرنشان ساخت : مناقشه افغانستان ویرانیهاي زیادي برجاي گـــذارده وبین ملت افغانستان تفرقه انداخته است . مــا ازکلیه جناحهامي خواهیم تنها راه حل مسالمت آمیز را در پیش گیرند .

«فرانسیس میهون هیس » ضمن اعلام حمایت اتحادیه اروپا ازتلاشهاي « نوربرت هول » نماینده ویژه دبیرکل سازمان ملل متحد درامور افغانستان براي توقف درگیریهـا و برقراري آتش بس، خواستار توقف دخالتهاي خارجي وصدور سلاح به این کشور شد .

وي درعـین حـال بااشاره بـه محدودیتهاي اعمال شده ازسوي طالبان درکابل علیه زنان و دختران تاکید کرد: اتحادیه اروپـا نمي تواند تبعیضهاي موجود براساس جنسیت رادرافغانستان بپذیرد وخواستاررفع تبعیضهادرمورد زنان است .

وي همچنین خواستار تضمین امنیت پرسنل سازمان هــاي بـین المللي درافغانستان وآزادي عمل آنها درارائه کمکهاي بشردوستانه به مردم این کشور شد .

درشرایطي کـه دولت اسلام آباد درجلسه شوراي امنیت زیرحمله وانتقاد شدید غفورزي قرارگرفت ، وزیرمشاور درامور خارجه پاکستان بخش اعظم سخنانش رابه مسائل حاشیه اي درزمان اشغال افغانستان توسط شوروي سابق وکمك اسلام آبـاد درجهت استقلال افغانستان و یاري به آوارگان این کشور اختصاص داد .

«صاحب زاده محمد ناظرسلطان » همچنین بااشاره بـــه خسارات وتلفات سنگین جنگ افغانستان، جاه طلبي ها وخردخواهیهاي برخي ازجناحهاي افغان را عامل تبدیل افغانستان بـــه یك میدان جنگ معرفي کرد . وي درعین حال خودداري برهان الدین «رباني » رئیس جمهور افغانستان از کناره گیري ازقدرت را عامل اصلي تداوم جنگ درافغانستان خواند .

وي همچنین عـــدم برخورداري جناحهاي افغان ازتعهد نسبت به صلح رامایه گسترش رقابتهاي تسلیحاتي درداخل ایـن کشور واستقرار تانکها وتجهیزات نظـامي در نقـاط مختلف افغانستان دانست.

وزیرمشاوردرامورخارجه پاکستان درحمایت ازعملیات نظـامي گـروه طالبان گفت : طالبان بـه دلیل انزجار ازمناقشات فرقـه اي دوران حکومت رباني خـود تصمیم به اعاده نظم وآرامش گـرفت وکنترول دو سوم این کشور رابدست گرفت .

وي افزود : طالبان مصمم است تادر زمینه ارتقاي صلح وحل مسائل ومشکلات افغانستان با جنرال دوستم واردمذاکره شود .

ناظرسلطان ازشوراي امنیت خواست تاقطعنـامه اي در مـــورد تحولات افغانستان صـادر کـرده و درآن درخواست فوري ازکلیه جناحها براي ترك فوري خصومت ها وانجام مذاکرات صلح رامطرح ساخته وعلیه افغانستان تحریم تسلیحاتي اعمال کند .

معاون وزیر امور خارجه افغانستان درپایان این جلسه با استفاده از حق پاسخگویي ، از برگزاري چنین نشستي توسط شوراي امنیت وتاکید تعدادي

بقیه درستون ۲ و صفحه ۴

چې کشور دافغانانو معطر کا
دهر بیت مصراع مې زلفې د خوبان کړي

رحمان بابا

غـــزل

ته به کړې الوت چې د وزرې حوصلې دی
فتحه به وی ستا چې دلښکرې حوصلی دی
ځکـه بې رښتیا دی چې پـه بلـه وارو لـه
چارته عطاچی « غاښوری حوصلی دی »
پام کوه چې ځان دی په ورو کیوکی شمارنه کړی
ستریه شی وروکیه که دی ستری حوصلی دی
ساز د کائنـات بـی منتظـر د غـزولو
پتی ستا په زړه کښی چی سندری حوصلی دی
خدایه چی نامه به پری دېښمو وی چا ایښی
زه چـی ورتـه ګـورمـه خوښری خوصلـی دی
تښتی مـی لـه مخـی بلاګـانـی دحالاتو
ګوره بـدرګـه مـی سربېری حوصلی دی
نغوتـی ددنـیا اودعـقبـلی شـوی بـی اثره
مـاسـره مـلګـری قلـندری حـوصـلـی دی
وی دی حوادث په توره برېښ کی په دی څه شی
څم به مخ په وړاندی چی می زغری حوصلی دی
سوزی به «حمزه » کـه وی دبری دبری غمونه
مـاتـه عطـاشـوی اوردسـری حـوصـلی دی

دامیر حمزه شینواری له پرېوتی څخه «۱۸۵» مخ

خـــوودداری

سری دپاره لـوی آفت بی لـه حاجته نه وی
هغه غری به څه غـری وی چی اوچتـه نه وی
هـغـه خـودداره قلـنـدر دآفـرین لایـق دی
چی لاس یی تش وی ولی سری یی چاته کته نه وی
په زړه واو دنهنګـانـو نه کیښتی جـوړوی
بوسـتدرچری خـالـی هـم دآفتـه نـه وی
دغرونـو څوکـی هم دواورو لانـدی پټـی شـوی
څپ هغه څپ دی چی دچاپری باندی لته نه وی
لکه نغمه تـولـه فضـا کـښی زه خوره وره یم
نیسه دی غرور که می معلومه درته پته نه وی
دواړه جهانه به زه څه کړم چی ته نه یی پکښی
دادرښتیـا ومـلنګـان دی بـی دولتـه نـه وی
دځپله لاسه عـزرائیـل ته بی تحفه پیش کړه
هغه ژوندون چی له ناموس اوله عزتـه نه وی
« دفضل حق شیدا له اسویلی څخه »

آرمـــان

سعدالله "خرند"

چی داویجاړ وطن اباد شی ، دا ارمان دی زما
چی می پوره دغـه مـراد شـی دا ارمـان دی زمـا
دادنفاق تیار وکـښی ورك دافغـانـانـو بچی
چی ټول راغونـډ په اتحاد شی دا ارمـان دی زمـا
چی دانفرت خودغرضی زمـوږ لـه زړونـوورځی
ورك چی وطن کښی موفسادشی داارمان دی زما
چی دوحشت تیـاری شـی ختمی پـه رڼـها دامـن
خلاص چی له جنګه موهیوادشی داارمان دی زما
دعلم وفن ښکلا چی بیا په ټـول وطن خوره شی
چی هریچی مو پـاسـوادشـی دا ارمـان دی زمـا
چی داسلام بیـرغ اوچت شـی په تمـامـه نـړیه
چی ملحدان واړه بـربـاد شی دا ارمان دی زمـا
راځئ چی ورکـړو دوحدت اووروروالـی لاسـونه
چی دښمنان مو په فریاد شـی دا ارمان دی زما
یم سعدالله خرنـد د دغـسـی ژوندون پـه امـید
چی هروګړی پکښی ښاد شی دا آرمان دي زما

دجنون خیـه

محمد حسن حقیار

وطنـه خپـل اوپـردی ستا هډوکی وسوځول
هوښیار دښمن دی په آشنا هډوکی وسوځول
دانسـانیـت پـه قـاتل راغـلـه دجنـون خپـه
ځکه یی ټن دځپل ابـا هـډوکی وسـوځـول
سره آفت راوستل له قطبه افـغـانی بریـځی
بی ننګه مزدورد احمدشاه هـډوکی وسوحول
د داروینی تیوری زیـږندی وحـشی لښـکرو
هـم دتهـذیـب هـم ارتقا هډوکی وسوځول
شوه طـوفانی په سـمـنـدر دنهـیلـۍ بیـړی
دشهـرت خـیال دتمـنـا هـډوکی وسـوځـول
دهندوکش دلمن سیوریه پـه خیبر راتـاوشـه
چی دپنجاب ګرمی یی بیا هډوکی وسـوځـول
حقیاره نه تنها سیاسی لیدریه موزونه وکـړل
سپینه جامه کی مو هر چا هډوکی وسوځول

دلګښا ورځې

احســـاس

احساس له حس نه اخیستل شوي اوحس په څوډوله دي لکه د ږبي حس ، د پوزې حس ، دسترګو حس ، دغوږونو حس ، د پوستکي حس ، خو کوم چې له تاسي درتولوستونکیو سره پري خبري کول غواړو هغه ټولنیز احساس ، دوجدان یا ضمیر احساس دي ، له نورو ژویو نه دانسانیت دامتیاز احساس دي ، یعني هغه احساس چې انسان ته ټولنیزه اړتیا ور په ګوته کوي ، ټولنیز مسؤولیت ورپیژني ، ټولنیز رول اداکولو ته یې رابولي ، دټولنې خیرښیګړه پري ښه اغیزه کوي اوشر اوضرر پري بده ، دهمدغه احساس پراساس ټولنه ژوندي ده اوترهغې چې دغه احساس ژوندي وي ټولنه به ژوندي وي .

پوهان دغه ډول احساس ته دضمیر یاوجدان غږ یا آواز هم وایي او داهم وورسره اضافه کوي چې دوېښ ضمیرخاوندان په ټولنه کښي دټل له پاره ژوندي پاتي کیږي اوهغـوي چې دغـه حس یي د یي لاري اوټولنیزو بریدونوپرېولو د وراوښتو له امله مرشوي وي مړه دي ، که څه هم جسماً ژوندي وي ، خو روحاً مړه بلل کیږي ځکه په بشري ټولنه کښي له خپل مثبت او ګټور رول نه لاس په سر شوي اوبیادټولنې له کاره لویدلي غړي وي .

دهري بشري ټولنیزي اړتیا له پاره کار کول دهمدغـه ویښ وجدان اواحساس له برکته ترسره کیږي او هغوي چې ټولنیزي ښیګړي ، اړتیاوي ، ستونزي اوغمیزي په ګوته کوي اودحل کولو له پاره یې ټولنه رابولي اویا یې دټولنې دوګړي وګـړي ترغوږو یې رسوي ، اودهغوي ویده احساس راویښوي دغـه ډول وګـړي لیکـوالان ، ادیبان اوشاعران دي اویا په بله وینا منثور اومنظوم شاعران ، چې ټولنې ته پیغام ورکوي ، تیمګرتیاوي یې په ګوته کوي ، اړتیاوي یې ورښیي دستونزو د حل له پاره یې راپاڅوي اوراپاروي ، هروګړي ته خپله خپله دنده او پاڅه (مسؤولیت) وریادوي هو ! همدا لیکوال ، ادیب اوشاعر دي چې په تورو تیارو کښي دړڼا مشال بلوي اودلاري میندلو لوري ښیي .

ویده ضمیرونه رابیداروي ، ویده قامونه راپاڅوي ، ویدي اومړي جذبې راژوندي کوي ، دیون اوپاڅون لاره ورښیي او مشال په لاس ورسـره روان وي ، لـه کـندوکـپـرو اوتیندکونو نه د ځان ژغورلو له پاره مشال په لاس ورکوي ، وایي چې لیکوال اوشاعر دټولنې سترګي او ژبه ده ، اوشاعر سترګور دي او ژبور ، ځکه هغه څه لیدلاي او حس کولاي شي چې نوریې نه شي او هغه څه ویلاي شي چې دنورو په خیال کي هم نه راځي .

نودرونـد شاعر اولیکواله ! راځه دخپلي دردېدلي ، رنځیدلي ، کړیدلي اوجنګ ځپلي ټولنې سترګي او ژبه سمه ، وګوره ، احساس کړه او ووایه ، دي ټولنیزو تیارو ته رڼښتیني روڼ مشال شه ، ګل ،بلبل ، شونډو ، خالونو او اننګو ستاینې هغو ته پریږده چې دخپلو خوشحالو ټولنو په خوښیو کښي لا پسي اضافه وکړي ، ستامسؤولیت سوله ،امن ، نظام ،عدل ،مساوات ورورولي ،اتحاد، زړه سوي احسان او ...... دي .

مـــنـــډي

لیکوال آشنا

شوي ؤ ، دیـوي وري پیښي خبره دومره ژړیه ښارکي خپوراوتیت شو چې تابه ویل له داټولو خلکو سره مخابري دي. که څه هم ورځپاڼې، راډیوي اوتلویزیوني خپروني نه وي، خوخبرونه ویرژر اوپه چټکي سـره دهرچا ترغوږ ورسیدل .

